پاکستان

پښتو

# ERRIN د ستنیدونکو

## کډوالو لپاره بیا یوځای کیدو روګرام

Co-funded by the Asylum, Migration and Integration Fund of the European Union

Migration in Action
Migratie in Beweging

european return and reintegration network

## د ERRIN په اړه

### د کډوالو د ستنیدو او بحالی په اړه یوه شریکه تګلاره برابرول

د ستنیدو او ادغام اروپایي شبکه **(European Return and Reintegration Network ERRIN)** د ۱۵ هیوادونو یو مشترکه ګروپ دی چې د هغه کډوالو په ستنیدو او بیا ادغام کې اسانتیا پیدا کوي چې نشي کولی، یا نور نه غواړي په اروپا کې پاتې شي. نیټ ورک خپل هیواد نه دستانیدونکیو په لوی پیمانه دهغو ضرورتونو، مشاورت، حواله او بیا ادغام ملا تړکوی.

د دي پروګرام لاندي، WELDO یو کانټریکټ شوے خدمت ورکونکے دے چې په پاکستان کښې په ټولنه کښې بیا شاملېدو کښې د رضاکارانه او غېر رضاکارانه ستنېدونکو مدد کوي.

ERRIN د اروپایي اتحادیه د پناه، کډوالی او ادغام فنډ (AMIF)، او د ګډونوال ملي اژانسو لخوا په شریکه تمویلیږي.

نور معلومات ولټوئ: **www.returnnetwork.eu**

## د ERRIN ونډه وال هېوادونه

| | اروپايي ونډه والې اداري |
|---|---|
| اتریش | د کورنیو چارو فیډرالي وزارت |
| آلمان | د کورنیو چارو فیډرالي وزارت، ودانۍ او ټولنه - د کډوالۍ او مهاجرینو فیډرالي دفتر |
| بریتانیا | کورنی دفتر |
| بیلجیم | د پناه غوښتونکو د ستړي مشو فیډرالي اژانس / د کډوالۍ فیډرالي دفتر |
| ډینمارک | د مهاجرت او ادغام وزارت |
| سویټزرلینډ | د مهاجرت لپاره ریاستي دارالانشأ |
| سویډن | د سویډن د مهاجرت اژانس |
| فرانسه | د کورنیو چارو وزارت - د کډوالۍ او ادغام دفتر |
| فنلینډ | د فنلینډ د مهاجرت خدمت |
| لوګزامبورګ | د بیروني او اروپايي چارو وزارت |
| مالټا | د کورنیو چارو او ملي امنیت وزارت |
| ناروی | د ناروی د کډوالۍ ریاست |
| نیدرلینډ | د انصاف او امنیت وزارت - د بېرته لیږلو او رخصتیو خدمت |
| هسپانیه | د کارمندانو، مهاجرت او ټولنیز امنیت وزارت - د مهاجرت څانګه |
| یونان | د کورنیو چارو وزارت او اداري بیا رغونه |

## زموږ سره اړیکه ونیسئ

په ټولنه کښې د بیا شاملېدو د مدد پروګرام د ستنیدونکو دپاره په ټول پاکستان کښې وړاندې کیږي څوک چې د ERRIN پروګرام لاندې راستنیږي.

## WELDO

**موږ دلته ستاسو د ملاتړ لپاره موجود یو!**

**د لیدني ادرس** فلیټ K-06,بلاک 6, بزنس بے، سیکټر F,فیز 1،راولپنډي 46000، پاکستان

**کاري ساعتونه**
پیر - جمعرات
8.30 am-5.30 pm
جمعه
8.30 am-4 pm

+92 333 506 403 9

erin@weldo.org

weldoerin

www.weldo.org

WELDO
Rebuilding Lives

## آیا تاسو د
## ملاتړ لپاره ور یاست؟

که تاسو د پاکستان ښاریان یوئ او غواړئ د ERRIN ملګرو ملکونو نه (د پاڼي په شا لسټ شوي*) ستانه شئ تاسو د دې پروګرام نه فایده اغستلو اهل یئ.

په خپله رضا او یا بغیر دخپلې رضا ستانیدونکی د هر عمر افراد د دې پروګرام اهل ګرځیدی شی:

- پناه غوښتونکي
- رد شوي پناه غوښتونکي
- منظم کډوال او غیر منظم کډوال
- بي سرپرسته ماشوم/ماشومه
- نور کمزوري افراد

د ونډه وال هیواد متعلقه حکام د اهلیت تعین کوی. د بحالی معاونت د دغه متعلقه حکام د جانچ پرتال او تصدیق نه وروسته ورکول کیږی.

## تاسو څنګه
## عریضه کولی شي؟

تاسو د ERRIN په ونډه وال هیوادونو کې د ERRIN اړیکو له لاری عریضه کولی شئ. تاسو لا زیات معلومات د خپل تولنیز کار کوونکي یا سلاکار څخه زیات معلومات ترلاسه کولے شي.

ستاسو د بیا یوځای کیدنې خدمتونه د ERRIN ونډه وال هیواد د تصویب څخه وروسته فعالیږي.

*مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چي په نټورک کښې شامل ټول ملکونه په پاکستان کښې د ERRIN په مرسته وراندي کیدونکي په تولنه کښې د بیا شاملیدو مرسته نه وراندي کوي. دي کې باید بدلون وشي. د خپل سلاکار څخه د تازه مالوماتو غوښتنه وکړی.

## څه ډول
## مرسته به ورکول کیږي؟

د ERRIN پروګرام د لاندي واپس شوي په توګه تاسو د ستنیدو او په تولنه کښې د بیا شاملیدو مختلف خدماتو اهل یئ چې د WELDO په واسطه ورکولے کیږي چې په بیا شروع کولو کښې ستاسو مدد وکړي کله چې ملک ته ستانه شئ.

دا خدمتونه په غیر مالي بڼه کې ورکول کیږي (ترڅو بل ډول بیان شي) او مختلف کیدای شي چې ستاسو په موقعیت، پیژنیال، او آیا تاسو مشخص اړتیاوي لرئ، تکیه کوي.

## د تعقیبولو
## تګلاره

### د روانیدو څخه مخکې

کو چري ستاسو درخواست د ERRIN ملګرو ملکونو کښ افسرانو قبول کړے وي تاسو د WELDO نه د معلوماتو غوښتنه کولے شئ چې په لازمي انتظاماتو کښې ستاسو مدد وکړي.

### کله چې تاسي راورسئ

پاکستان ته د رارسیدو نه وروستو WELDO تاسو ته بنیادي مرسته درکولي شي.

- د ایرپورټ یا د رارسیدو په ځای ستړي مشي
- په ملک کې دننه د وراندۍ سفر ملاتړ
- مؤقتي استوګنځی
- د بیړني طبي پاملرنې لپاره راجع کونې
- نور اساسي لوازمات

## د بیا ادغام خدمتونه

WELDO به ستاسو سره کار کوي چې د بیا شاملیدو یو مناسب منصوبه جوړ کړي چې د ګرانټ په موجود پیسو کې دننه ستاسو حالات او ضرورتونه په فکر کښې نیسي. خدماتو کې شامل دي:

- تولنیز،قانوني او طبي ملاتړ
- اوږود مهاله د استوګنځی ملاتړ
- د زده کړو او ژبې روزنه
- د دندې موندلو ملاتړ
- تخنیکي او مسلکي روزنه
- د کاروبار پیل کولو ملاتړ
- د کمزور ډلو لپاره بیسپوک ملاتړ
- د خاندان معلومولو کښې مرسته
- د بي سرپرسته ماشومانو (UAMs) مرسته
- نښي پوسټ کول

## په اړه

**WELDO** یو بغیر د ګټي تنظیم دے چې د 2003 راهیسي په پاکستان کښې کار کوي. WELDO د ERRIN پروګرام لاندې په پاکستان کښې خدمت ورکوونکے دے.

په مختلف وختونو کښې، WELDO د 900 قومي او بین الاقوامي پاټنرانو سره په مختلف ډول پراجیکټس کار کړے. WELDO په 2010 کښې په پاکستان کښې د ستنیدو او بیا شاملیدو په پراجیکټونو کار شروع کړے.

د دغه وخت راهیسي، WELDO د 7000 نه زیات رضاکارانو او په زور راستانه شوي کسانو ته د راستنیدو او تولنه کښې بیا شاملیدو مرسته ورکړي.